**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۱** **نېټه: ۲٦ / محرم الحرام / ۱۴۴۵ هـ ق | برابره ده له: ۲۱/زمري/۱۴۰۲ هـ ش**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

و بعد: ځینې محکمو دا ډول پوښتنه کړې ده چې: (آیا ګروي د تطبیق مانع ګرځي او که نه؟) یاده موضوع له اصولي پړاوونو تېرېدو وروسته د سترې محکمې د عالي شورا محترم مقام د ۱۴۴۴/۱۲/۱۷ هـ ق نېټې جلسه کې مطرح شوه او د عالي شورا محترم مقام د (۴۵) ګڼه تصویب د پنځمې پرېکړې پر بنسټ داسې هدایت وکړ:

(دا چې مرتهن هم یو دائن دی، آیا هغه له دائنینو سره د دین په حکم کې برابر دی او که نه؟ د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست دې د موضوع په تړاو د بیع او استحقاق تفصیلي او مدلل حالتونه ترتیب او د عالي شورا په راتلونکې جلسه کې دې مطرح کړي.)

د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست، د سترې محکمې د محترمې عالي شورا د هدایت مطابق، د اړونده موضوع په هکله نظر وړاندې کړ او وړاندی شوی نظر د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۴/۱۲/۲۴ هـ ق نېټې، چې له ۱۴۰۲/۴/۲۱ هـ ش سره برابره ده، جلسه کې مطرح شو چې د (۴٦) ګڼه تصویب د درېیمې پرېکړې پر بنسټ داسې هدایت صادر شو:

**((ترتیب شوې مسئله (ګروي د تطبیق مانع نه ګرځي) له خپل تفصیلي حالتونو سره د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست له خوا تاییده ده، د دارالانشاء عمومي ریاست دې د یوه متحدالمآل په ذریعه ټولو محکمو ته واستوي.))**

بناءً، د سترې محکمې د محترمې عالي شورا د مقام لیکلی هدایت او د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست له لوري ترتیب شوې مسئله له دې متحدالمآل سره مل په (۲) پاڼو کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اړونده د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو ته واستول شول تر څو په رڼا کې یې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء عمومي رئیس**

**ستره محکمه**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

# د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو د عمومي ریاست تدقیقي نظر!

د سترې محکمې د عالي شورى د دارالانشاء محترم رياست ۱۴۴۴/۱۲/۲۰هـ ق نېټې په (۹۷۵/۱۸۹۹) ګنه لیک، د تدقيقي نظر په موخه دې رياست ته را رسېدلى ده چې په (۲۲۰۲) مؤرخ ۱۴۴۴/۱۲/۲۱هـ ق شمېره د استهداآتو په کتاب کې قيد شوى ده.

**مکتوب داسې صراحت لري:**

و بعد: د دارالانشاء عمومي رياست د مکتوب نمبر (۱۷۴۲) مؤرخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۱ هـ ق په تعقيب احتراماً ليکو:

په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷ هـ ق چې د ۱۴۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرى د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د يادې غونډې پنځمه موضوع داسې وه:((د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مؤرخ ۱۴۴۴/۱۰/۲۷ هـ ق د تصويب نمبر (۳۹) د اتمې پريکړې په اساس هدايت کړى وو چې (دغه موضوع (ګروي د تطبيق مانع ګرځي او که نه؟) دې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست ته واستول شي ترڅو په اړه يې خپل نظر څرګند کړي تر هغه وروسته به د عالي شورا په مجلس کې بحث پروکړو) د ياد هدايت مطابق د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د موضوع په اړه نظر څرګند کړى وو او ليکلي يې دي چې په ياد صورت کې ګروي د تطبيق مانع نه ګرځي. چې موضوع په مجلس مؤرخ ۱۴۴۴/۱۱/۱۸ هـ ق کې مطرح شوه او په اړه يې عالي شورا هدايت کړى وو چې: ((په ياده مسئله کې دې نور هم تحقيق وسي د استحقاق صورت، د دين صورت دې د جزئيو په حواله وليکل شي تر هغه وروسته به د عالي شورا به راروان مجلس کې خبره پر وکړو.)) د ياد هدايت مطابق د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست جواب ترتيب کړى او اداري معاونيت محترم مقام هم په دې اړه خپل نظر را استولى دى، په اړه يې چې څرنګه ترتيب وشي؟))

د سترې محکمې د عالي شورا د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د تصويب نمبر (۴۵) مؤرخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷ هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۴هـ ش د پنځمې پريکړې په اساس په لاندي ډول هدايت وکړ:

((دا چې مرتهن هم يو دائن دى آيا دى د دين په حکم کې له نورو سره برابر دى يا څنګه؟ په دې اړه دې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د بيعې او استحقاق دواړه صورتونه مدلل او مفصل وليکي تر هغه وروسته دې را رواني شورا ته وړاندې کړي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوى هدايت د دې مکتوب په توسط ستاسو محترم مقام ته د وروستيو کړنو په موخه واستول شو.

**تدقيقي نظر:**

د دارالانشاء رياست د فوق الذکر مکتوب په اړه تدقيقي نظر:

که مرهون د دائنينو په پور کې خرڅيږي، يا په استحقاق وړل کيږي په تفصيل سره يې حکم په لاندې ډول دى:

**د دين حکم:**

۱. که د دائنينو حقوق پر راهن په شرعي توګه ثابت سي او قاضي صاحب د شريعت مطابق د مرهون د بيع امر وکړي يا په شرعي توګه تر اصولي طى مراحل وروسته خپله مرهون خرڅ کړي، وروسته ثمن درې حالته لري:

**لومړي:** ثمن د مرتهن تر دين اضافه وي.

**دوهم:** ثمن د مرتهن تر دين کم وي.

**دريم:** ثمن د مرتهن د دين سره مساوي وي.

په ټولو صورتونو کې د مذکورو ثمنو څخه تر ټولو دائنينو مخکې د مرتهن دين اداء کيږي.

وروسته که لومړي صورت وو (يعني ثمن اضافه سول)، پر نورو دائنينو په شرعي توګه (د حصصو مطابق) وېشل کيږي. او که دوهم صورت وو (په ثمنو د مرتهن دين اداء نه سو)، مرتهن د راهن په نورو اموالو کې د پاته دائنينو سره مساوي دى. او د دريم حکم واضح دى.



ستره محکمه
رياست تدقيق و مطالعات

**د استحقاق حکم:**

٢. د استحقاق په صورت کې به مستحِق (بعد القضاء أو الرضاء) معین مستحَق مرهون اخلي؛ ځکه د رهن د نفاذ دپاره شرط دی چې راهن به د مرهون مالک وي، که يې مالک نه وي په یاد مرهون کې (د بیع ملک الغیر په شان) د مالک بې اجازې رهن نافذ نه دی.

بناء که مرهون په دین کې خرڅېږي لومړی (د لوړ تفصیل موافق) د مرتهن حق ځني پوره کیږي او که مرهون په استحقاق وړل کیږي (په مستحَقه حصه کې) مستحِق تر دائنینو حقداره دی.

**د لومړي قسم دلائل:**

**«مجلة الأحکام العدلیة» (ص١٣٨):**

**«(اَلْمَادَّةُ ٧٢٩) حُكْمُ الرَّهْنِ أَنْ يَكُونَ لِلْمُرْتَهِنِ حَقُّ حَبْسِ الرَّهْنِ لِحِينِ فِكَاكِهِ وَأَنْ يَكُونَ أَحَقَّ مِنْ سَائِرِ الْغُرَمَاءِ بِاسْتِيفَاءِ الدَّيْنِ مِنْ الرَّهْنِ إذَا تُوُفِّيَ الرَّاهِنُ.»**

**«درر الحکام في شرح مجلة الأحکام» (٢/ ١٥٣):**

**«وَقَوْلُهُ (أَحَقُّ مِنْ سَائِرِ الْغُرَمَاءِ) يَعْنِي أَنَّ سَائِرَ غُرَمَاءِ الرَّاهِنِ لَيْسَ لَهُمْ أَنْ يَتَدَاخَلُوا فِي الرَّهْنِ الْمَذْكُورِ أَوْ أَنْ يَدْخُلَ فِي قِسْمَةِ الْغُرَمَاءِ. سَوَاءٌ أَكَانَ الرَّاهِنُ تُوُفِّيَ أَمْ حَيًّا أَمْ مُفْلِسًا فَالْحَالَةُ هَذِهِ تَعْبِيرُ (وَفَاةٌ) الْوَارِدُ فِي الْمَجَلَّةِ لَيْسَ احْتِرَازِيًّا.**

**الْمَسْأَلَةُ الْمُتَفَرِّعَةُ عَلَى الْحُكْمِ الثَّانِي: وَفِي هَذَا التَّقْدِيرِ يُبَاعُ الرَّهْنُ وَيُوَفَّى الدَّيْنُ كَامِلًا مِنْ ثَمَنِهِ. فَإِذَا بَقِيَ مِنْهُ شَيْءٌ يُقَسَّمُ غَرَامَةً بَيْنَ سَائِرِ الْغُرَمَاءِ وَإِذَا لَمْ يُوَفِّ ثَمَنُهُ دَيْنَ الْمُرْتَهِنِ يَسْتَوْفِي الْمُرْتَهِنُ بَاقِيَ الدَّيْنِ غَرَامَةً مِنْ سَائِرِ أَمْوَالِ الرَّاهِنِ (فَتَاوَى ابْنِ نُجَيْمٍ وَالْبَزَّازِيَّةُ) .»**

**«الفتاوی الهندیة» (٥/ ٤٣٣):**

**«فَإِذَا مَاتَ الرَّاهِنُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ سَائِرِ الْغُرَمَاءِ فَيُسْتَوْفَى مِنْهُ دَيْنُهُ فَمَا فَضَلَ يَكُونُ لِسَائِرِ الْغُرَمَاءِ وَالْوَرَثَةِ، وَلَوْ مَاتَ وَأَفْلَسَ، وَعَلَيْهِ دُيُونٌ يَكُونُ الْمُرْتَهِنُ أَخَصَّ بِهِ مِنْ سَائِرِ الْغُرَمَاءِ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ.»**

**د دوهم قسم دلائل:**

**«فقه المعاملات» (١/ ٧٢٧ بترقیم الشاملة آلیا):**

**«(أن يكون مملوكا للراهن محوزا) وهذا ليس شرطا لجواز أو صحة الرهن, وإنما هو عند الحنفية والمالكية شرط لنفاذ الرهن, وبه يعرف حكم رهن مال الغير.**

**فيجوز رهن مال الغير بغير إذن بولاية شرعية كالأب والوصي , يرهن مال الصبي بدينه, وبدين نفسه.**

**ويجوز رهن مال الغير بإذنه, كالمستعار من إنسان ليرهنه بدين على المستعير.**

**فإن لم يكن هناك إذن من المالك بالرهن, كان الرهن كالبيع موقوفا على الإجازة, فإن أجاز نفذ وإلا بطل.»**

**«الموسوعة الفقهیة الکویتیة» (٣/ ٢٢٦):**

**«إِنِ اسْتُحِقَّ الْمَرْهُونُ الْمُعَيَّنُ كُلُّهُ بَطَل الرَّهْنُ اتِّفَاقًا، وَإِنِ اسْتُحِقَّ الْمَرْهُونُ الْمُعَيَّنُ قَبْل الْقَبْضِ خُيِّرَ الْمُرْتَهِنُ بَيْنَ فَسْخِ عَقْدِ الْمُدَايَنَةِ مِنْ بَيْعٍ وَنَحْوِهِ، وَبَيْنَ إِمْضَائِهِ مَعَ إِبْقَاءِ الدَّيْنِ بِلاَ رَهْنٍ، وَكَذَلِكَ يُخَيَّرُ الْمُرْتَهِنُ إِنْ كَانَ الاِسْتِحْقَاقُ بَعْدَ الْقَبْضِ وَغَرَّهُ الرَّاهِنُ، فَإِنْ لَمْ يَغُرَّهُ بَقِيَ الدَّيْنُ بِلاَ رَهْنٍ، وَإِنْ كَانَ الْمَرْهُونُ غَيْرَ مُعَيَّنٍ وَاسْتُحِقَّ بَعْدَ قَبْضِهِ أُجْبِرَ الرَّاهِنُ عَلَى الإِْتْيَانِ بِرَهْنٍ بَدَلَهُ عَلَى الْقَوْل الرَّاجِحِ، وَلاَ يُتَصَوَّرُ اسْتِحْقَاقُ غَيْرِ الْمُعَيَّنِ قَبْل قَبْضِهِ»**

**په درناوي**

| | | |
|---|---|---|
| **مولوي حمد الله محمدي**<br>**قضايي مدقق** | **مفتي حزب الله ابراهیمي**<br>**د تدقيق او مطالعاتو عمومي رئيس** | **مولوي عبدالکریم الکریمي**<br>**قضايي مدقق** |

ستره محکمه ریاست تدقیق و مطالعات

١٤٠٤/١٢/٢٣